**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: شهید محمد موسی شفیق
رالیږونکی: فضل الرحمن فاضل

۲۰۲۲/۰۱/۲۵

# عبقریان
# او
# نورې قصې




د کوم کور دیوالونو دننه چه دا قصه شروع کیږی هغه د ښار په هغه برخه کښې پروت دی چه د عمر په لحاظ هغومره زړه نه ده څومره چه د دی نه سهیل لمرخاته او لمر پریواته خواؤته برخی زړی دی. مګر د قطب خواته نوو آباد یو دا هم ګرانه ګڼیده چه اوس دې برخی ته څوک نوی ووایی د آبادۍ په لحاظ د دی برخی او دښار دنورو زړو برخو په مینځ کی چندان فرق نشته، په هره کوڅه چه برابرشی د مردارو بویونو ډېوزی به لکه د کچری سپاهی درپسی شی اولکه د اړد غومبسی غوندی به دی وځغلوی او د غشی په شان به دی د کوڅی د هغی بلی خوانه وباسی.

خړخړ د دوړو نه ډک دیوالونه چه ځای په ځتی کنډو کپر شوی دی سړی ته داسی بریښوي چه ته به وایی هیڅوک د دیوالونو شاته نشته خوما پخپلو سترګو لیدلی چه د دروازی نه اخواته ښکلی ښکلی کوټی دی سرې سرې قالینی پکښی غوړیدلی او سرې سپینې پیغلې او نیمزالی پکښې اوسی چه په دی هدیره غوندی کوڅه کی د ژوند تقریبا یوازینۍ نښه ګڼل کیږی دیوی وړی کوټنی په نمرخاته کونج کښی یواوږد او پلن میز پروت دی چه تقریبا د کوټی دریمه برخه یی ټوله نیولی ده نمر پریواته او قطبی خواوته یی د دیواله پوری یوڅو دانی سرې چوکۍ پرتی دي چه د څرمنی پوښ او د نرو لرګو بازوګان لري. دچ وکۍ دناستی ځای بوټ راوتلی او د اوسپنی دسیخونو نښی دڅرمنی لاندی اوچته ښکاره کیږی. د میز په سربانډی د بانجانی وړیو یوه شډله ټوټه غوړیدلی او د هغی د پاسه یو دیوات یو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قلم یو جاذب، یو ټلیفون او یوه جنتری پرته ده، دمیز شاته په یوه پراخه بازوداره چوکی باندی یو زوړ سړی ناست دی چه یوه عمودی شان خندایی په ببرو شونډ لکه دکانټی د کربښی غوندی ښکل ده، دسړی په سر سوه توره پګړۍ ده چه دیوي توري بخملی خولۍ نه ښویه تاوه شوی او دتندی د منځ په برابریی دګلاب دیو دوه ورځنی غوړیدلی ګل هوره شمله پریښی ده، دزړاه سړی په غاړه باندی یو سپین کمیس دی چه خیرنی جې یی دګونجی ګونجی ورمیږ په غاړه د ورایه ښکاره کیږی، د کمیس د پاسه یی یو تور اوږد کوټ اغوستی چه د اوږي ژمي بدلون قطعا په رسمیت نه پیژنی دکورتۍ نه کوز یوتور پتلون ځان په یو جوړ داسی تورو بوټانو ورغورځولی چه غیر له همدغسی ورځونه لکه دا مونږیی چه قصه کوو په بله ورځ هیڅ دمه نه شی کولی. د دی کالو خاوند یوه توره ږیره لری چه د هر ویښته زړه یی داسی سپین دی لکه دخاوند شاته دیوال یی دزاړه سړی د خولی هیئت به ستا په زړه کی ډیر امیدونه راویښ کړی اوډیره خوښی به درننه باسی مګرهغه د سپینی پګړۍ او بانجاني کوټ خاوند چه ده ته مخامخ ناست دی هماغومره په تیارسی ښکاره کیږی لکه د چنګیزخان دمعروفی خیمی په وره کی دهغه صحرایی پیره دار. په بانجانی کوټ کی دننه سړی یوه بونډی شانی ږیره لری چی یوڅو ډکو یې بی وخته د خاوند د پګړی درنګ سره سیالی کړیده. مخ یی دغټو دانو د ماشوم توب د وخت دکومی سختی حملی ناخوښی خاطری د پولیسی سابقی غوندی چه د سړی په تذکره کی ثبتیږی امانتی ساتلی دی. یوسپین پرتوګ یی په غاړه او یوه جوړه نیمزالی کلوشی یی په پښو دی پخپله ناسته کی ډیر ډیر د پخوانی مصر د عریضه نویسانو مجسموته پاتی کیږی، دواړه ژامی یې سره جوختي او ګرد ګرد لاسونه په زنګنونو د میز ترشا سړي ته داسی په برید دی لکه چه هغه هم ګوندی د ده سره خبری کوي، خو دهغه سترګی په یو ګرد مسین ساعت نښتی دی چه د میز په سر ده ته مخامخ په درې پښو ولاړدی د ساعت لنډی ډبغرکی بازو د یولسو د نښی په غټ تورټکی ورننوتی او اوږد بازو یې د دولسو د نښی نه یو څو کوره لالری دی.

د کوټی نه دباندی ورسۍ ته نژدی د یوي پخی چوترې په سر یو سپین ږیری سړی د کوټی بر پلو دیوال ته ډډه لګولی او نیم ویده غوندی ښکاره کیږی، د ځان نه یی یو اوږد زیږ وړین کوڅو تاوکړی او ملایی په یو تور ملاوستنی تړلی چه یوه ښایسته شان د زیړو وګلداره کړی ورباندی لګیدلی ده. دا کمر بند د کوڅو خاوند پخوا د عسکري شیانو په کوم لیلام کښې رانیولی او ډېر ورباندی ګران دی. دا لیلام د پخوانی پاچا په امر شوی او چې سپید ژیرې ته به چا وویل: بابا که پاچا دی ونیسې چه ولی دي سرکاري ملاوستنی تر ملا کړی نو څه به کوی؟ ده به اول د دوښکي یو داسی حرکت وکړ چې یعنې زه خو پوه شوی یم چې ټوکې راسره کوي او بیا به یې وویل: زه به ورته ووایم چې قربان دې شم خو تا په خپله لیلام کړی وه، بې له دی چې فکر وکړی چې اوس نه هغه پاچا شته چې پوښتنه تری وکړې او نه هغه لیلام ګرې چې شاهدی ووایې!

نا څاپه د ټلیفون زنګ د کوټی د هدیرې غوندې چوپتیا ګډه وده کړه د سپینې بګړۍ لاندی مخلوق یو ورخطا جټکه وخوړه او د کوټې نه د باندې سپین ږیری هم د نیم خوبۍ نه راویښ شو.

په دی کوټه کښې چې ټلیفون ډېر لږ په کارېږی او په ورځ کښې چیرته یو وار- نیم د بهر نه زنګ راځې د زنګ انګازو د لیرې او نژدې شاوخوا کوټو خلک هم غوږ په آواز کړل، د توری پګړۍ نه لاندې، سر کښې ژبه وخوزیده:

بلی بلی صاحب...

.....

.....

امروز؟

.....

ده توپ؟

.....

به چشم...

په چوتره باندی ناست سپین ژیری د ټلیفون د زنګ د اوریدو نه وروسته خپل ښی غوږ د کوڅو نه راویستلی ؤ، په نورو خبرو خو یا پوه نه شو او یا یې د تبصری وړ نه ګڼلی مګر چې د تور پټکی خاوند وویل: «ده توپ؟» دی اوچت ودرید، کوڅو له یې یو نری شان تاو ورکړ او د ځان سره غلی وپسید چې ایله به مقررو پریښتو اوریدلی وي: «ده غضب خدا شوه خدام باز که رده توپ می ته؟» د سپین ژری د آخر عمر ارمان دا و چې یوه ورځ دی کوټی ته راننوځی او د میز شاته په تور کوټ کښې نغښتی سړی ونه ګوری او واوری چې هغه د شپی خپلی سراچې ته د ختو په وخت کښې د زینې نه رالویدلی او نور ده ته بدې بدې نه شي کتلی ځکه چې سترګي د ابد لپاره پټې شوی دی.

د سپینې پګړۍ خاوند د خپلی پیشی په مخصوصه حاسا باندې پوه شو چه «امروز» او «ده توپ» څه معنا لرله. نو ځکه یې خپلی غونډی غونډی کوتي په یو عصاباني شانتی حرکت په زنګنو ښخی کړی او د ښکاریانو په اصطلاح بوڅ کیناست او چې د میز ترشاه سړي خبره شروع قدری کړه نو دی وربانډی تر بیخه پوری رسیدلی ؤ. د کوټی نه په وتو کې شو، دواړه شونډې یې تښتیدلی وې چې د هر څومره کوشش کاوه چې سره یو ځای کړی هغه لکه د ایلم او دوسری ګوندونه یو د بل نه لرې وتلې اتفاقًا د ده شونډی هم ډېرې پیړې وې. ډېر چست چست قدمونه یې واخیستل دواړه لاسونه یې د لامبوزن غوندي بیدو داسی په خوزیدو راغلي وو لکه هغه سیخونه چې د ګړندی موټر د ښیښی واوری پاکوی. د کوټی نه چې ووت او د چوتری نه هم چې کوز شو نویې مخه د هغو کوټو خواته شوه د کوم چې زیږی وروسی ټیټی وی او ښایسته ښه زورور زوږ ترې راووت. په دې کوټو کښې خلکو سبقونه ویل او ډېر پاخه پاخه استاذان پکې ناست وو.

زمونږ د آشنا چه متاسفانه وروسته له دی یې مونږ د سپینی پګړۍ په خاوند نه شو بیلولی ځکه چې د نورو خلکو هم سپینې پګړۍ شته- په زړه کې ډېرې خبرې لکه د بریښنا د حرکت غوندی تیری شوې، د هغه بی ادبه شاګرد څیره یې سترګو ته ودریده چې هغه بله ورځ یې په ده پوری ټوکه کړی وه او دی یې د نورو په مخ کې یې پیکه کړی ؤ، هغه بل چه د ده مضمون ورته چندانی مهم نه ښکاره کیږی او هغه بل چې د ده عمومی تعلیم د کموالي په وجه حتی د ده د صنعت په قیمت هم نه قایلیږی. او هغه بل چې د ده د کاکا د زوي پوره احترام نه کوی او هغه بل.... دا ټولی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځیری لکه دسینما د یوې چستې پردې ننداری غوندی د ده په حافظه کښې وخوزیدی، نو یې د ځان سره شکر وویست چې پدغه ورځ او دغه وخت د ده ساعت خالي ؤ او دی په هغه کوټنۍ کښې حاضر و چیرته چې د «امروز» او «ده توپ» تاداو ایښودل کیده. اوس نو دی خپل انتقام اخیستی شي، اوی به نو د دی ټولو ځیرو خاوندانو ته خپل زور وښیې. د خپل جیب نه یې بې نظیره قلم په رپیدلو ګوتو را وویست، کولمی یې ورتاوې او ژبه یې رابهر کړه. اصیل قلم هیڅ قی نه وه کړی نو ځکه یې ګوتی د جیب نه تشي راوویستي او دسمال پکې نه و مګر هرڅومره مګر هر څومره یې چې ښی چپ دننه او د باندی جیبونه ولټول سپین کاغذ یې پکې ونه موند. اول خو یې فکر وکړ چې د کوم شاګرد نه به یې واخلي او د مزله نه ونه درید مګر دا خیال ورغي چې ممکنه ده سپین کاغذ به د دغسی یو چاسره پیدا شي چې د هغه ځیره ده د وخته راښکلی او که دی ترې کاغذ واخلي بیا به ښه نه وي چه د هغه نوم ونه لیکی ځکه په توندۍ راستون شو او تکل یې وکړ چې د ټلیفون د کوټنۍ خواکی به د هغه بلی کوټنۍ نه چه دفتریان پکې ناست دی کاغذ راواخلي په دی خویې یقین ؤ چې هغوی به کاغذ ورکړي ځکه چې دا کار خو د ده خپل نه دی مګر چه د کوټې ورته ورنږدې شو ناڅا په یې زنګنونه ورپیدل او زر بیرته په ډیر احتیاط راوګرځید. د دویمی کوټې ور هغه ځای ته مخامخ و چیرته چه هغه توري پګړۍ خاوند ناست و، که هغه دی بیاهم لیدلي وای چې لا تر اوسه یې کار نه دی خلاص کړی ورته به په قار شوی لا څه کوي، چې ممکنه ده بل څوک دی کار ته مقرر کړي.

دی چې بیرته راستون شو نو په ریښتیا سره یې د شکر نه زړه ډک ؤ چې دغه بلا نازله نه شوه او د ده هغه ټولی نقشی یې ګډي وډې نه کړی، په لاره دی ته هم اوزګاره ؤ چې د شپی د ډوډۍ نه هم یوه خاموشه شان استغناء خپل ځان ته اعلان کړي، بیدو لکه هغه دم چې سړی یې د بلیاتو د دفعی لپاره په خپل ګریوانه کښې چف کوي نن شپه که نوبت ښه دی او که خراب څه فرق نه کوي، بیګا ته لا څه سبا او بلي شپی له هم د چا پروا نه راځي. دا یې تقریبا د استغناء د اعلان متن ؤ یوه بله فقره یې هم پرې ورزیاته کړه: دا دوه شپی خو به می زړه د چړي د راتلو د وخت په نږدی کیدو رازونه او درزا نه کوي.

اوس نو دی ورو ورو هماغه کوټو ته نږدې شو چیرته چه مشران شاګردان د خپلو استاذانو سره راټول ناست وو. دی چه په ډیوډۍ ورننوت د چپ لاس خواته دروازه ورته نږدی وه نو یې بیرته کړه او پښه یې ورنه واړوله، په کوټه کي د ننه دیارلس څوارلس کسه په اسی یو هیئت سره ناست وو لکه ته به وایې چا ورته د یو مربع په کرښو چونه اچولي او دوي ورباندی کینولي دي. دروازی ته مخامخ چه کوم دیوال ؤ د هغي خواته یو ښه سوقه سړی ناست ؤ چه د اوږدی ږیری سپین یې په تورو زیات وو، په سر یې یوه تکه سپینه پګړۍ د یوې سپینې خولۍ نه ول ول تاوه تپل شوی وه، د خولۍ په اوږدو او سرو باندی یې د تیلی لاری ځغلیدلی وي، د پګړۍ او خولۍ د ډېر سپینوالي نه اوچته معلومیده چه صرف همدا نن سهار دواړه یخدان نه راویستل شوې دی. په کرد چاپیره ناست قطار کښې یو څو نورو پګړیو هم د استاد د پګړۍ سره سیالي کوله، معلومیدله چې زیرکو شاګردانو ورځی شمارلی او د ((امروز)) په مخصوص اهمیت باندی خبر وو.

په بانجانې کوټ کې نغښتي غونډ منډ بنیادم چې په درشا یې راښکاره شو د استاذ په وښکوکي د هغې رنځور تبسم اثر ولیدل شو چه ده په ډېره خوارۍ د شنډو د دیوالونو د ننه ایسار کړې ؤ هغه شاګردان چې جامی مخصوصا پاکې او پګړۍ یې غټې او ښې سپینی وې هغوي هم پوه شول، د بانجانې کوټ خاوند د یوي غټې سپینې بګړۍ د خاوند نه پوه پانه سپین کاغذ او غوښت او هغه په رپیدلی لاس ورکړ. د کوټ خاوند خپل کولمدار قلم چه ډېره ښه نوکه یې وه د کاغذ به مخ کیښود او پخوا له دی چې د همدغه کاغذ ورکوونکي د نامه په لیکلو شروع و کړی په یو رپیدلی او ګډوډیدونکی آواز یې اعلان وکړ: « نن د ختم ورځ ده، په دوولسو بجو به استاذان د شپیتو کسو سره بې واقعهء الهی د دې ځای نه روانیږي.» هم دایي وویل: ان شاء الله یې د بطلان د ویری ونه ویله، او د یو عد د پسی د کاغذ ورکوونکی نوم ولیکه، بیا یې درجه په درجه د پګړۍ او ژیرې د حجم او نظام، په ترتیب نومونه پر له پسی ولیکل. یوڅو کسه شاګردان چې پټکي چندان سپین نه وو د ځان سره پیکه غوندې هم شول چه ولي یې دغسې لویی ورځی ته نه ؤ پام شوی، پیکه لاځه چې ترخه هم ځکه چې د کال د مایدې نه د محرومیت په شرم او عذاب دواړه اخته شول، اوس به ترې په هرځای کښې هغه نور ملګری مخکښې کیږي په دې کوټه کښې د بانجاني کوټ خاوند نور څه تصرف نه شو کولی چې د انتقام وینه یې سړه شي، مګر دا چه نومونه ړومبی او وروستي ولیکی.

دوه درې نورې کوټې هم د بانجانی کوټ خاوند د غسې ولټولی او په آخر کښې هغې پخوانۍ کوټنۍ ته راغي. په دې کوټه کښې درویشت شاګردان او یو غلی شانتی استاذ ناست وو. چه خپل کاغذ ته یې وکتل شمار یوپنځوس ته رسیدلی ؤ، دلته نور د بنجاني کوټ خاوند خپل صلاحیت ولید چې څوکې ته ختلی ؤ، اوس نو دی کولی شي چه د نن غرمی لپاره د چا په خیټه پښه کیږدی کولمي یې وکړنجوي او د مودو مودو د چای او ډوډۍ ځپلی خیټه د پولاو او حلوا په ځنځیدلو غوړو خړوبه کړي، ټولی سترګي همدته اوښتي وی او په ټولو کښې تضرع او زاري وه، د بانجاني کوټ خاوند په دمه دمه ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵۵ لیکل، د چانه یې انتقام اخیست په چایې احسان اچاوه، د چایې د ځان نه شر دفع کاوه، د چایې د ښو بدله ورادا‌ء کوله او په عین زمان کښې یې د هغه تورپټکي د خاوند د ذوق او طبیعت خیال هم ټینګ ساته. شماره چې شپیتو ته بیخي نږدی شوه د ده سترګي اتفاقا په یو غونج غوندی سړي ولګیدې چه د هغه سترګی هم په همده باندې ښخې وې، د بانجاني کوټ خاوند ونه شو کولی چې سترګی بل خوا واړوي او د غونج سړی نه تیر شي، بس په سترګو کښې مات شو او د هغه نوم ته یې «بلامرجحه ترجیح» ورکړه او د ۶۰ په خواکښې یې په خپل ښکلي خط او کولمه دار قلم ولیکه.

اوس نوده غونج سړي لړوډېره پیژندنه هم په کار ده، غونج سړی دوه کاله د خپلو ملګرو سره همدغلته تیر کړي او که د هغوی نه پوښتنه وکړي نو هیڅوک به یې بد یا ښه اوصاف ذکر نه کړي شي، د دی معنا د هغه محیط او زمونږ د عمومي محیط په اصطلاح داده چې ښه سړی دی او بي بدو سړی دی، د چا په ښو او بدو کار نه لري، په دغه بختوره ورځ د ده هیئت دغسی ؤ چې یوه سپینه پکړۍ یې په سر وه، خولۍ یې د داسی شنه بخمل ګنډل شوې وه چې تور ته یې ځان نږدی کاوه، ږیره یې توره او د قبضې نه ښه زیاته وه، د مخ سره نښتي خواوې یې چندان برابرې نه وې خو د زنې نه ښکته برخه یې د یو سرچپه مخروط شکل غوره کړی ؤ، سپین اوږد کمیس یې په غاړه ؤ چې د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زنګنونو نه یې دوه درې لویشتی تیرؤ، د ګریوان په حد کښې هماغومره ساده ؤ لکه څومره چې د لستوڼو په برخه کښې ؤ، چپه ګردن یې نه درلود مګر د ورمیږ خیرنو خولو ورباندی یو ګرد چاپیره پټ تیر کړی ؤ، یو لیلامي واسکټ یې په غاړه و چه د څلورمي تڼۍ د سوري نه یې یو د سپینو زرو ځنځیر شروع شوی او د چپ لاس خواته د برنی خولې ته ورننواتی ؤ، په دغه برنی او د ده نه په لاندې جیب دواړو کښې دوه ګرد ګرد غونډاری ښکاره کیدل، اول خو به خو به مو پیژندلی وي چه د جیب ګړۍ وه او دویم به زه درته ووایم چه د خولې د نسوارو یو داسی دبلۍ ؤ چې آئینه یې هم لرله. په ښۍ خواته جیب کښې یې یو سنډی دسمال ښکاریده پیڅکی یې ښکته ځوړندې وې او خواته یې یو اوږد وچ کلک سپین بخن شانتی مسواک ولاړ ؤ، د ساعت د ځنځیر ښکلا یو تور نری قلم زیاتوله چه سپین پن یې د جیب په شونډه کلکه خوله لګولی وه، د واسکټ نه ښکته یو سپین ارت اوږد پرتوګ د غونج سړي د پښو په غاړه ؤ چه د دروازی په خوله کښې د هغو رنګا رنګو بوټانو پڼو، څپلیو او کلوشو په منځ کښې د ده د بوټ دوزۍ په فابریکه کښې حوړ شوي بوټان هم پراته وو، د دې کالو د پاسه زمونږ غونج ملګری یوه توره اوږده چپن اغوستي وه، چه ډېره زیږه او پیړه ټوټه یې وه، او فقط غاړی ته نژدې یې یوه غټه تڼۍ لرله او نوره ایله وه، د ده په مخ کښې د لرګي په یو زیږه تخته یو ګنجی ګنجی دسمال غوړیدلی او د پاسه وربادی درې اوږده او پلن کتابونه پراته وو چې سوروری پاڼی یې د شین آسمان غوندی د وړو وړو ټکو او تورو په ستورو ډکي پکی وې.

دا غونج سړی د ښار د یو خاص مالت امام دی، جومات یې پراخه دی ډېر میلمانه پکې ځائیږي او مقتدیان یې ډېر په دې پسې سر نه وړې چه امام یې په جومات کښې څه کوي؟ په واقع کښې هغوي قطعًا د ده په فکر کښې هم نه دی او ډېر به یې لا رؤیه هم نه پیژني. نو ګویا د امام سر خپلو وطندارانو ته لوړ دی، څوک یې میلمانو ته څه نه شی ویلی، مګر د دی سر لوړی بیه امام صاحب ډېره قیمته آداء کوي ترڅو چه کومه خاصه موقع پیښه ونه شي ترهغي پوری ده ته څوک نه د ورځی او نه د شپی ډوډۍ رالیږي. د ده په عصري مقتدیانو کښې هغه زوړ تقلید چې باید د امام دپاره په نوبت ډوډۍ ورولیږل شي مړ شوی، نو ترڅو چې څوک مړ نه شي او یا په خوب کښې ونه ویریږي یا د چا څلویښتی او تلین پوره نه شي او یا خو د امامانو شپی او یا آخره چارشبنه نه وي د ده کوټنۍ په جومات کښې د غوري او کاب مخ نه شی کتلی، په دغسی شپو کښې یې هم د هغه کورنه امید کیږي که چیرته کومه پخه ښځه ناسته وي او په پخوانو خبرو باندي اصرار د هغی خپل قیمت زیاتوي، ګویا زمونږ غونج امام چه د یو معتبر مالت امام دی او جومات یې د ډېرو میلمنو دپاره ځای لري او سر یې لوړ دی په واقع کښې په چای او ډوډۍ خپلی صبا کوي او صرف خوشکه کلانکاری ور رسیږي.

په دی بختوره ورځ د ده برابر نهه جومی شوی چه هیڅ کومه ولجه یې نه ده کړې او د ډېرې خوشکۍ نه په هره خبره نښلي او د هر چا سره جنګ کوي، کله چې د کوم سماوار یا هوټل په څنګ کښې تیر شي د چاینکۍ بوی یې نژدی ده چې په مځکه راوغورزوي، کله چې د ده د ټولګی ملګری د خپلو نوبتونو د اوومو او څلویښتیو کیسې وکړي د ده زړه څه چه خوله یې هم اوبه اوبه کیږي، د ډېري مودي اوږدې چپنی، غټي او سپینې پګړۍ شته مګر د ځان سره یې دا عهد کړې و چې که چیرته چه که چیرې هغه ضعیف احتمال رښتیا کړو دی به هم د میاشتو قصور وباسی او ځان به د خپل مالت د مړی او انتظار نه یو دوه درې جومې بیغمه کړي.

توپ ډز وکړ، شاګردان او استادان د کوټو نه راووتل. هغه بختور شپیته کسان په غولی کښې سره راټول شول او پاتی کسان د ارمنجنو زړونو سره د دروازې نه ووتل، د دولسو نه پنځلس تیرې وې چه دا د تمې کاروان هغه د تورې پګړۍ د خاوند په مشرتوب د امید د سر منزل په لوری روان شو.

په یوه لویه کوټه کې اوږده اوږده توشکونه خواره او قالینې وربانديې د پاسه غوړیدلي دی. استادان او شاګردان د سوداګر د اول نظر په لاربښوونه هلته پنډ شول او فورًا یې سیپاري راواخیستي او په ډېر ځیر او ایمانداری وربادی پیل وکړ، هرچا به د سترګو لاندی یو نظر کوټی ته اچاوه، یو نظر به یې د سودا ګر ناظر ته کاوه او یوه د غلا کاته به یې د هغو مخامخو اورسیو خواته هم لیږل د کومو پردو د چاود نه به چه د سوداګر د حرمسرای اوسیدونکو د ختم ګرو پټه ننداره کوله، لږ وروسته یو میانه قدی شان سړی راغی چه بونډۍ ژیره یې په زني پورې نښتې، موزې او پتلون یې په پښو خیرنه نکټایې یې په غاړه او شنه لونګۍ یې په سر وه، هغه د ژبی لاندی څه وظیفه غوندی زمزمه کوله، راغی او د کوټی په کونج کښې کیناست او سیپاره یې راواخیسته. ختم ګري ټول پوه شول چې دی څوک دی. د ده نه د ده د ناظر نه، د کوټې نه او د هرڅه نه په دغه کورکې د استادانو او شاګردانو پوزی ته یو مست بوي او د دوی مغزو ته یو غوړ خیال راته.

شاګردانو او استاذانو د رسمیاتو د ختمیدو انتظار په ډېره بی صبرۍ ویستلو، هر چا به خپل ګاونډي ټومبلو چې سیپاره ژر خلاصه کړه چا به چې سیپاره د وبال د وجهی نه د مصلحت په بناء نه ټپوله نو اول خو به ورته نصیحت وشو چه چاته حرج پیښ نکړي او چې هغه به لاهم لګیاؤ نو چا به ورته مسئله وښوده چه څه بیایې په خپل جومات کښې خلاصه کړه.

شاګردانو یو او بل ته اشاری وکولی او سترګکونه یې وهل، کله چه د ماسپښین نسیم سپیږمو ته د دیګونو پیغام ووایه بی اختیاره هر چا خپله سیپاره ټپه کړه او دعاګاني شروع شوي، د دعا نه وروسته دسترخوانونه وغوړیدل او هر قسم خوراکونه وربادی کیښودل شو، شاګردانو او استاذانو ته اجازه وشوه چې ورنه راتاوشی، یو غر شو چې د دستر خوانونو شاوخواوي ډکې شوي، د هر چا بس خپل ځان یاد ؤ، زمونږ غونج ملګری چه ځان د مطلب په غوړ پراو کښې ولید نویې د خپل جومات حالت رایادشو او هرڅه یې چه ګوتو ته ورتلل هغه یې هغومره وخواړه چه ترڅو تالي او کنډوالی تش شول او په ده باندی هم خپل ځان دروند شو او د یوې مزه دارې ستومانتیا خولې پرې راماتي شوې. د هغه ځای نه چه شاګردان او استاذان راووتل په جیبو کښې یې پنځه پنځه روپۍ هم زیاتی شوي، ځینو شاګردانو وربادی ولایتي اوبه وڅښلی مګر هوښیارو او پخو شاګردانو هغه هم ګټه کړي او مخ په خپلو ځایونو روان شول. زمونږ د غونج ملګرې ساه ډېره خپه وه، ده ډېر ژر ژر او ډېره زیاته ډوډۍ خوړلې وه، خیټه وربادې ساعت په ساعت درنیدله، جومات ته چې ورسید په خواری یې ځان کټ ته ورساوه، حال یې ساعت په ساعت خرابیده مګر دایې په حیال کښې هم نه تیریده چه ګوندې طبیب ته به یې حاجت پیدا شي، آخیر یې یو وچ لیمو چه په تاخچه کښې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پروت ؤ راواخیست او د اوبو سره يې وڅښه. مګر هیڅ فایده يې ونه کړه، چه شپه رانژدې کیده د ده حالت نور هم خرابیده. اوس يې په کولمو کښې ډېر شدید درد ؤ او سا يې ډېره خپه وه، د ډاکټر فکر هم ورغی مګر پیسی به يې د کومه شي؟ د هغه زاړه کتاب په قت کښې چه کوم نوټونه پراته دي هغه د ده هیر نه دی مګر هغه نو څنګه کنډو کړي، هغه خو ده په ډېره خواری راغونډ کړي دی. د ځان سره يې وویل: آخر به ښه شم، یوه شپه ده درد دی تیر به شي، دا پیسې باید کنډوې نه کړم ... مګر د ده ګمان خطا ؤ او هغه څوک ورپسې راغي چه د هغه په راتګ د کتاب د پاڼو په قت کښې ایښې نوټونه نه کنډویدل، هغه راغي او دې يې د دردنه بیغمه کړ مګر: څنګه بیغمه؟ داسی بیغمه چه بیا هیڅ غم ونه ګوري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ